


# زموږ د چوپړتیاوو د کارولو څرنګوالی

rtd-denver.com | 303.299.6000 | customercare@rtd-denver.com

د ډېنور مېټرو ساحې لپاره د عامه ټرانسپورټېشن چمتو کوونکي په توګه، RTD ټولنې له بسونو، ریل ګاډو، Access-a-Ride (د معلولیت لرونکي خلکو لپاره چوپړتیاوې)، د ګاونډ له عامه شټل ټرانسپورټ لکه FlexRide، او نورو ډېرو سره نښلوي. RTD ته اجازه ورکړئ چې ستاسو د ټرانسپورټېشن د اړتیاوو په پوره کولو کې مرسته وکړي!

## د کرایې د تخفیف پروګرامونه

تاسو او ستاسو کورنۍ ښایي د تخفیف په شرایطو برابر اوسئ. تخفیف لرونکې کرایې د لاندې کسانو لپاره د لاسرسي وړ دي:

- ځوانان (19 کلن او هغه څخه لږ)*
- معلول لرونکي کسان
- مشران (65+ کلن)
- لږ عاید لرونکي کسان

**په rtd-denver.com/discount-fares کې شرایطو باندې د برابروالي او د تخفیف لرونکو کرایو د غوښتنې په اړه لا ډېر مالومات ترلاسه کړئ!**

* ۱۹ کلن او لږ عمر لرونکي ځوانان د ځوانانو لپاره د صفر کرایې (Zero Fare for Youth) پروګرام له برکته وړیا سپرلۍ کولی شي.

## د ټکټونو او اجازه لیکونو د پېرودلو څرنګوالی

که د بس یا ریل ګاډي پواسطه سفر کوئ، د RTD د ټکټونو او اجازه لیکونو پېرودل آسانه دي. له خپلې اړتیا سره سم نرخ وټاکئ (3-ساعته، ورځنی، یا میاشتنی)، او تاسو په خپلې لار کې یاست.

### د ټکټونو او اجازه لیکونو د پېرودلو ځای

- د ریل ګاډو په ټولو سټېشنونو کې د ټکټ پلورلو ماشینونه
- بس چلونکی (که چېرې نغدې پیسې وکاروئ، دقیق مقدار اداء کړئ)
- په rtdonlinestore.com کې
- د RTD د خرخلاو پرچون پلورنځایونه
- د King Soopers او Safeway پلورنځایونو کې ګډون کول




### RTD ستاسو په ځیرک ټیلیفون کې

د ټکټونو د پېرودلو تر ټولو آسان ځای ستاسو ځیرک ټیلیفون دی. د کېڼې خوا QR کوډ سکن کړئ ترڅو IOS یا انډرایډ لپاره د **RTD MyRide** اپلیکېشن راښکته کړئ.

**په rtd-denver.com کې د RTD چوپړتیاوې وپلټئ، خپل سفر پلان کړئ، او نور ډېر موارد ترسره کړئ.**

## خپل سفر پلان کړئ

له پیل څخه تر پایه پورې د خپل سفر د پلان جوړولو لپاره د **RTD Next Ride** ابزار (app.rtd-denver.com/nextride) وکاروئ، د خپل بس یا رېل ګاډي پرمختګ بررسي کړئ، یا ریښتوني وخت کې ځنډ یا لغوه کېدل بررسي کړئ.

## بس نیول




**کتورې لارښوونې**

- خپل تمځای ته له وخت څخه وړاندې راورسېږئ.
- کله چې یو بس راورسېږي، د بس په پورته مخامخ برخه کې ډیجیټل نښه وګورئ ترڅو ډاډ ترلاسه کړئ چې دا هغه لاره او مقصود ځای دی چې تاسو ورته اړتیا لرئ!
- بس ته پورته شئ او خپله کرایه له ټاکلو میده پیسو، د اعتبار وړ ټکټ، اجازه لیک، د MyRide کارت یا موبایل ټکټ سره اداء کړئ.
- که چېرې د MyRide کارت یا موبایل ټکټ کاروئ، هغه له تائیدونکي سره سکن کړئ.
- کله چې خپل مقصود ځای ته نژدې شئ، زیړه رسۍ کش کړئ یا د تم کېدو غوښتنې لپاره تڼۍ کېکاږئ.
- کله چې شونې وي له شاته دروازې څخه ووځئ.

## رېل ګاډي ته پورته شئ




**کتورې لارښوونې**

- تمځای ته راورسېږئ. راتلونکي رېل ګاډي لپاره ډیجیټل نښې یا Next Ride وګورئ.
- ټکټ پلورونکي ماشین څخه ټکټ یا اجازه لیک وپېرئ، او یا له پورته کېدو څخه وړاندې خپل موبایل ټکټ یا اجازه لیک چمتو کړئ.
- خپل چاپ شوی ټکټ په سور رنګ لرونکو "V" ماشینونو، خپل د MyRide کارت په تور او نقره ای رنګ لرونکو تائیدونکو کې تائید کړئ، یا خپل د موبایل ټکټ فعاله کړئ. تاسو له ټکټ پلورونکي ماشین څخه د ټکټ پېرودلو تائیدولو ته اړتیا نه لرئ.
- رېل ګاډي ته د انتظار کولو لپاره د زیړې کرښې تر شا ودرېږئ.
- ډیجیټل نښه وګورئ یا صوتي اعلان ته غوږ ونیسئ ترڅو پوه شئ چې کله چې خپل مقصود ځای ته نژدې کېږئ.




## په بسونو او رېل ګاډو کې خوندي اوسئ

که چېرې تاسو یو څه وګورئ، یو څه ووایاست. د **RTD Transit Watch** اپلیکېشن راښکته کولو لپاره د ښي خوا QR کوډ سکن کړئ ترڅو د RTD سیستم د خوندیتوب او امنیتي اندېښنو په اړه راپور ورکړئ. تاسو ښایي له 303.299.2911 شمېرې سره اړیکه ونیسئ یا 303.424.9100 شمېرې ته لنډ لیکلي پیغام واستوئ ترڅو د امنیتي اندېښنو په اړه راپور ورکړئ. د لا ډېرو مالوماتو لپاره له rtd-denver.com/transitwatch څخه لیدنه وکړئ.

## مرسته او د ژبې مرسته

RTD په اړه د هر ډول پوښتنو لپاره د پېرودونکو د چوپړتیاوو له ځانګې سره په **303.299.6000** شمېرې اړیکه ونیسئ. د شفاهي ژباړې چوپړتیاوې په وړیا ډول سره په +200 ژبو کې د لاسرسي وړ دي. هسپانوي ژبې لپاره 2 تڼۍ کېکاږئ. د نورو ټولو ژبو لپاره، استازي ته ووایاست چې تاسو په کومه ژبه خبرې کوئ او پر لیکه پاتې شئ ترڅو تاسو له یو شفاهي ژباړونکي سره ونښلوي.

**په rtd-denver.com کې د RTD چوپړتیاوې ولټئ، خپل سفر پلان کړئ، او نور ډېر موارد ترسره کړئ.**